**بسم الرحمن الرحیم**

**د امریکا متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د سولې خبرو اترو**
**په هکله د افغانستان د خلکو د محور اعلامیه**

سوله د افغانستان د خلکو لپاره لومړیتوب لري. د افغانستان د خلکو محور په خپله ژمنتیا او درناوي د خلکو د سولې سپېڅلی هیلو ته درناوئ کوي. او تل یې په دې برخه کې خپل هڅې کړی دی.

مونږ په قطر کښې د امریکې او طالبانو ترمنځ د ورستیو سرته رسیدلو توافقاتو نه په کلکه ملاتړ کوو.

د افغانستان د خلکو محور د افغانستان اسلامي جمهوریت او د طالبانو ترمنځ د ژر تر ژرو خبرو اترو پر پیلیدو ټینګار کوي.

د سولې پروسه باید ژر تر ژره په یوه ریښتیني بین‌الافغاني پروسه باندې بدله شي، یوازې د هیواد د لستازو شتون د سولې خبرو اترو په پروسه کې کولی شي چې لاسته راوړنې، حقوق، آزادۍ او د افغانستان د خلکو لپاره د یو با ثباته امنیت او سوکالي زمینه برابره کړي.

په درنښت
د افغانستان د خلکو محور